مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور
۲۰۲۴/۰۴/۲۸

# مـوږ خپلـه پخپل لاس کـړلـه سنګساره زندګي

يـوه شېبــه خوښــۍ پسې خـمـاره زندګي
منصوره! دلـته ـرانـه ده لـه داره زندګي

زما د کړېدلي ولس خيال ته نـه پرېوځي
چې دلته به هم وکړي څوک کراره زندګي

وحشته! بس همدومره دی تغير راکې راغلی
همدومره چې راوتي ده له غاره زندګي

ته مه پوښته جنت جنت وطن کې دی څه حال!؟
ولا چې پر اوږو مـو ده بېګاره زندګي

شيطان اخلي آدم تـه د سجدې رانه قصور
چې تېته یې هـرغل تـه کـړه نهاره زندګي

سر خپل دی تيـږه خپله ده باوره! شعور نشته
مـوږ خپلـه پخپل لاس کـړلـه سنګساره زندګي




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ